بي غم کله د غمجن په غم پوهيږي
غمجن ځان لره د ځان په غم کړيږي

دردمندان د ځان په درد کي ويش او وير کړي
بي درد کله د درد مند په درد خوږيږي

څوک چې موړ وي ټول عالم ورته موړ ښکاري
موړ د وږي په حالت کله خبريږي

د جمله زړونو مالک پروردېگار دي
بنده کله د بنده په زړه رسيږي

ته پخپل غم و درد ژاړه ملنگ جانه
د بل څه دی چی دا ستا په غم ژړيږي